ددوي ديموکراسي خوددي له پاره ده چي له دي لاري نه خپلي تحبري خپل عمال راوړاندي کولي شي اوکه دغسي نتيجه ورنکړي بيا ديموکراسي هم حرامه ده بيا دديموکراسي په خلاف دپوځ اقدام هم قانوني دي .

امريکا چي خپل ولس قانع کوي نومنافقت به کوي اوهغه به دروغ وايي ترڅو هغه خپل ولس قانع کړي، دنيا

> دکابل رژيم دپوځ مسلح قوتونه اوس له نجيب نه بيزاره دي او دخپلي سابقي دجبران لاري لټوي

قانع کړي شي چي رښتيا امريکا دانساني حقوقو زوړ تاريخ هم دهغوي مخي ته پروت دي ، دادي دروس ترخه تجربه هم دهغوي په وړاندي ده زه دغسي ملك نه ګورم چي هغه به افغانستان ته دپوځونوليږلو له پاره زړه ښه کړي اوددي جرئت دي وکړي . په دي خاطر زه داوه اومطمئن يم چي دظاهرشاه راتګ هسي تبليغات دي، هسي ځيني خپل زړه ښه کوي باپه دي سره غواړي په مجاهدينوکي څه تشويش راپيداکړي . ضعيف النفس کسان مشوش کړي چي شايد خطردي اوپه ذهني طورهغوي ترفشارلاندي ونيسي بيا هغوي دي ته اړاومجبورکړي چي له خپل اصولي دريځ اوموقف نه لږراکوزشي اودا دپرديو شرايط ومني . ځيني نورددي کوشش کوي چي دمجاهدينو هغه متحل مؤقت حکومت چي نه يوازي ختم شوي بلکي دفن شوي هم دي هغه بيرته راژوندي کړي دلته اوهلته کوشش کوي چي دامؤقت حکومت دي په رسميت وپيژندلي شي حزب اسلامي هم دحکومت نه وتلي هغه دي هم بيرته شامل شي په دي ترتيب دادمجاهدينو حکومت دي ،مسئلہ حل کيږي .

زه وايم چي حزب په دي حکومت کي وو دافغانستان مسئله وريباندي حل نشوه اوس خودري کاله کيږي چي حزب اسلامي له هغه نه وتلي اودهغه مؤقت حکومت فاتحه هم اخيستل شوي .

زموږ له نظره مؤقت حکومت منحل دي نور هغه سوال نه پيداکيږي اوځيني نورپيادددي کوشش کوي چي کيدي شي يوه لويه شوري دي ويللي شي بيادي دغه لويه شوري دلته دمجاهدينو دمشرانو نه يوکس درئيس دولت په حيث انتخاب کړي اوبيادي مجاهدين په همدغه خبره اصرارورکړي ټولو ته دي ودايي چي

دمجاهدينو دخوښي حکومت دغه دي نجيب دي دهغه له پاره استعفا وکړي اوقدرت دي همدي حکومت ته انتقال شي بس مسئله حل کيږي داشوري دي هم دورواوسترونتظيمونو ترمينځ دتساوي په بنيادجوړه شي همغه دپندي دمشورتي شوري تجربه يوځل بياتکرارشي په دي باندي هم همغه تنظيمونه اصرارکوي چي ددغسي شوري خونديي ځکلي دهغه بيانکرارغواړي باهغه کسان چي ځان ته يوه مصروفيت پيداکول غواړي په قضيه کي ځان مطرح کړي که يوازي دتنظيمونو ترمينځ خبره راخلاصه شي هغه هم دموثرو تنظيمونو بياددوي له پاره چانس په لاس نه ورځي که يوخوره وره اووسيع شوري وي نوکيدي شي دوي هم په هغه کي غريشوب ترلاسه کړي په دي خاطر ددغسي يوي لوي شوري په جوړيدو اصرار کوي دابه دتساوي په بنياد وي انتصابي اوبيا هغه دي کامل صلاحيت ولري دملت په نمايندګي دي هغه فيصله وکړي . زموږ له نظره داسي شوري نه عملي ده ، نه موږورته څه ضرورت لرو، نه ددغسي شوري دجوړولو له پاره وخت لرو.

زموږ له نظره دادتيري تجربي تکراردي ځکه په مشورتي شوري کي موږ دافغانستان مسئله حل نکړي شوه همدغسي يولويه شوري موږ دافغانستان مسئله نشي حل کولي .

که موږ په هغه مشورتي شوري خلك قانع نکړي شول نويه دي شوري باندي هم ولس نشو قانع کولي دنيا هم نه شو قانع کولي هغې شوري مؤقت حکومت ومنلو محدودشمير ملکونو داحکومت په رسميت وپيژانده هغه هم زه په واضحو الفاظو وايم دحزب داعتبار په وجه اودادحزب دتلاشونو نتيجه وه چي څلورو ملکونو هغه په رسميت وپيژانده ماته راوښي چي له هغه بعد چي حزب وتلي کوم ملك دي هغه په رسميت پيژندلي وي . داسي انتصابي شوري ګاني دملت نمايندګي نشي کولي داصرف دتنظيمونو شوري ده څکه افراد ئي تنظيمونو معرفي کړي اودملت رايي ته په هغه کي رجوع نه ده شوي په هغې کي به تناسب همغه وي چي دتنظيمونو دمشرانو ترمينځ دي بيابه دري يوطرف ته څلوريل طرف ته وي يابه برعکس وي همدغه تناسب چي داوو

زياتوکمومشرانوترمينځ به وي په شوري کي به همغه تناسب وي منتهي دغه اوه به ديوعددحزب کيږي اوپه نتيجه کي به هيڅ تفاوت نه راځي نتيجه به همغه څه وي چي داوويکم اوزيات مشرانوترمينځ دتفاهم په نتيجه کي راپيدا کيږي که څوك غواړي چي موقت حکومت دي ددغسي شوري له لاري نه جوړ شي چي هغه شوري انتصابي وي اوتنظيمونه ئي معرفي کړي .

نوولي تنظيمونه راسا د وخت دضياع نه پرته دلندي لاري نه مخامخ داکارونکړي په خپلو مينځونوکي کښيني يومؤقت حکومت باندي دي توافق وکړي . زموږ له نظره دتساوي په بنياد شوري عادلانه نده اوله دي ، بعد موږ په داسي شوري ګانوکي برخه نه اخلو . داسي شوري ياضعيف تنظيمونه غواړي چي له بلي لاري شوري جوړيږي نوهغوي ته په زړه پوري برخه به لاس نه ورځي ، ياهغه افرادچي دتنظيمونوله لاري نه نشي مطرح کيدلي هغه کسان چي اصلا دخپل ملت نه ويريږي په خپل ولس اعتماد نه لري د خپل ولس دفيصلي نه ويريږي غلط امتحان ئي ورکړي نه دي توانيدلي چي خپل ولس قانع کړي .

دهغوي کوشش دادي چي دغسي لويه شوري دي يوځل جوړه شي انتصابي دي وي دتساوي په بنياد چي په دي ترتيب بيادانتخاباتو سوال دتل له پاره منتفي شي ځکه چي يوځل لويه شوري داهل حل اوعقد په نامه جوړشوه نوبيا هغه کوم ميرتي دي چي داشوري منحل کړي بيا به ددي شوري غړوته څوك وايي چي اوس په نه ځاي منتخبو غړوته پريږدي بيا به هغه سل دلائله راوړاندي کوي چي په اسلام کي مؤقته شوري نشته په اسلام

کي مؤقت حکومت نشته بس يوه شوري شته بلي ته ضرورت نشته دانتخاباتو له پاره وخت نه لرو په اسلام کي انتخابات نشته نو په ځلوروګتابونو به ددي شوري انحلال ناجايز اوحرام ګڼي په دي ترتيب به داشوري دتل له پاره پاته کيږي بيابه دملت رايي ته دمراجعي سوال نه پيداکيږي . دغه شوري به بيادهرهغه چامخالفت کوي چي ووايي داشوري دي نوره منحله شي .

دهغه ځاي دي بله منتخبه شوري ونيسي، دتوافقاتو سره سم به بايد دملت رايي ته مراجعه وشي اودملت دخوښي نمايندګان دي راشي . ددغسي هري فيصلي به په اتفاق سره بيابه په مطلق اکثريت سره دوي مخالفت کوي هغه څوك چي غواړي انتخابات دتل له پاره منتفي کړي اوله دغي شوري نه يوه دائمي اوثابته شوري جوړه کړي هغوي په دي اصرار کوي چي اوس دي يوه ستره شوري جوړه شي، تنظيمونه دي هم په دي کي مساويانه برخه ولري اودا شوري دي داهل حل اوعقدوي اوپه دي ترتيب دي دانتخاباتو سوال دتل له پاره منتفي شي .

موږ وايوچي پادي داورووستي فيصله چي دتنظيمونو ترمينځ وشوه اويوځل بيا اخبارونو منعکس کړه اوددنيا والو غوږونو ته ورسيدله چي دمجاهدينو دتنظيمونو مشرانو يوځل بيا په نوي طرحي توافق کړي قيادي شوري، مؤقت حکومت چي په هغه کي به رهبران غړيشوب نه لري، بيادپوکال په مينځ ، مينځ کي انتخابات وشي دا چي داحکومت به دکابل رژيم دنسکوريدونه بعدهلته په کابل کي خپل کار پيل کړي التزام وشي ترکومه ځايه چي په حزب اسلامي پوري مربوطه ده . هغه چي کومه خبره وکړي ترپايه وريباندي ټينګ اواستوارپاته کيږي . موږ ته د دي اودپيغورخبره معلوميږي چي يوه حزب دخولي نه ووځي بيا له هغې نه شاشونه مواياني داخبره منلي شي اونه موغيرت اوهمت چي يوانسان دي په يوه خبره تعهدوکړي . بيادي له هغي نه شاشي ، متاسفانه تاسو وليدل ځيني تنظيمونه چي تن دمازديګر ساعاتوکي موافقه وشوله امضاګاني وشوي لاشپه نه وه راداخله شوي چي دهغوي غږونه دبي بي سي اوصداي امريکا نه اوچت شول چي دافيصله خوپه موږپه زورتحميل شوي اودپاکستان مشرانوپه موږداتحميل کړي ده . داخومره له بي همتي اودبي غيرتي خبره ده نه دومره استقلال نه لري . نه ټولي دنياته وائي چي په مااندي پرديو خپله فيصله تحميل کړيده ستامالامانه ده چي دپرديو فشارلاندي راځي بيا يوه موافقت نامه امضا کوي . له يومشرنه نيوس شوي چي تاسو څوامضاء کړيده ويل بي دغسي امضا ګاني موږ ډيري کړي دي . يو اتيا دوسيي نوري داسي شته دائي دوه اتيايه . زه نه پوهيږم چي يوعادي انسان هم په داسي خبرو شرميږي چي يو څوك دمشرتابه دعوي کوي اودبوتنظيم اوحزب په راس کي وي هغه دغسي دپيغوراودننګ خبره کوي . متاسفانه ځيني همدغسي دي چي خپل تعهدات ورته هيڅ ارزښت نه لري ددي له پاره تعهد کوي چي مات ئي کړي . مؤقت حکومت ودشپږومياشتو له پاره چي شپږمياشتي ئي پوره شوي کيناستل ويي ويل داتريوکاله پوري دي ، يوکال هم پوره شو ګمان ئي کاوو چي تريو کاله پوري مسئله حل شي نوداميدئي نه درلوده چي اوس خوداحکومت ديو کاله پوري وو بيا څه کوي بيا کښيناستل اوشپږمياشتي يې نورهغه عمراضافه کړآخر مجبورشو چي داسي هميشه نشي کيدلي چي هرځل به کښېنواوشپږمياشتي به دهغه عمراضافه کووځيني ئي راغونډکړل چي فتوي ورکړي چي په اسلام کي مؤقت حکومت نشته دامريد حکومت دي اوويل ئي چي موږ خودافيصله کړي چي داحکومت په دکابل رژيم دنسکوريدو نه بعد په کابل کي يوکاله پوري دوام کوي . ويلي موجي يومياشت نه بعد به داحکومت په داخل کي انتقالو بيا بي ويل چي په داخل کي تماري ده خطردي هلته دحکومت دجوړولو امکان نشته ويلي وو چي په شپږمياشتوکي به انتخابات کيږي نودوپرفشار نه بعد يونيم کال وروسته دانتخاباتو کميسيون جوړشو اوخپلو مينځونوکي يې توافق وکړچي داخل نه هيئتونه ليږو اوهمغه هيئتونه دي دهري ولسوالي نه نمايندګان انتخاب کړي . موږ ملاحظات درلودل ويل مرفيصله په انتخاباتوشوي ده نه داچي هيئتونه به ليږو اوداهيئات به دخپلي خوښي کسان دهغه ځاي نه راغونډوي سره له دي موږورسره ومنله ولي لکه چي دهغه انتخاباتو نتائج راغلل ځينو تنظيمونو وليدل چي يونمايند هم هغوي نه دي ترلاسه کړي تقريبا دشپيتوولسواليو

(۷)مخ

موږ لویه شوري منو ، خو په دې شرط چې هرتنظیم...

نتائج راغلل په دغوشپیتو ولسوالیو کي هغوي یوګمایندہ هم نه درلود . بي بي سي اوصداي امریکا سره بیا مرکي پیل شوي اوویلي چي په دي انتخاباتوکي خلکو دوسلي نه کاراخیستلي ، خلك ني ویرولي . په زوریي له هغوي نه رایه اخیستي په زوریي له هغوي نه امضاء ګاني اخیستي . بیسي استعمال شوي په دي خاطرموږ داانتخابات نه منو ددوي دخپلي خوبني انتخابات ددوي هیئتونه تلي وو په هرهیئت کي ددوي نمایندګان اوغړي وو خو چي څوك ني نه درلودل له داخل نه ددوي نمایندګان نه شو راتلي په دي خاطرئي دهغه مخالفت وکړ . موږ لویه شوري هم منو خوپه هغه کي به هرتنظیم دخپل وزن په اندازه برخه اخلي داسي نه چي ووراولوي تنظیم به برابروي . . ماته یوچاوویل چي لویه شوري جوړوو اوګلاني تنظیم په دي اصرارکوي

ماوویل چي سمه ده لویه شوري به جوړه کړو دحزب به کم له کمه پنځوس رایي اودهغه نه به زیات نه زیات بوراتي وي ، یوهیئت به وټاکو هغه دي دهرحزب ثقل ، وزن او نفوس په ولس کي معلوم کړي بیا په همدي تناسب دي دهرحزب غړي راشي داسي تنظیمونه چي هغه دوهم کس نه لري اودیوواره دفتردچلولو توان نه لري نوداځنګه داانصاف خبره ده چي هغه دي هم سل کسان معرفي کړي، هغه به دومره کسان له کومه کړي په پوره اخلي له ېل تنظیم نه ، په اجاره به ني نیسي ، داداانصاف خبره نه ده چي لویه شوري دي ددغسي دورو اوسترو تنظیمونو ترمینځ دتساوي په بنیاد جوړه شي .

موږله دي سره هم موافق یوچي دتنظیمونو یوه محدوده شوري دي جوړه شي په هغي کي دتنظیمونو مشران یوډوه کسه نور، داشوري دي صرف دتفاهم شوري وي دتنظیمونو ترمینځ دیووالي دهمکاري ، دتساند ، دپیښویه هکله دیوواحد موقف تیول.ددي له پاره لکه دااوس چي په پاکستان کي آي جي ، آي همدغسي شوري لري ام ، آر، دي دغسي یوه شوري درلوده . ددنیا په هرملك کي چي تاسي وګوري داپوزیسیون یادمخالفو قوتونو همدغسي محدوده شوري وي دي کي صرف رهبران برخه لري ددي له پاره چي هلته دهرحزب رایه منعکس شي بیا تفاهم وشي اومشترك تصمیم ونیولي شي ، دغسي یوه محدوده شوري په کارده ددي شوري به ددولت سره هیڅ سروکارنه وي اودهغي په ځنګ کي دي یومؤقت حکومت جوړشي. باصلاحیته حکومت چي درژیم دنسکوریدونه یعد تول اختیارات دغه مؤقت حکومت ته انتقال شي دي حکومت کي باید تیر حکمرانان اوقیادت اوزعامت ته کاندید خلك غړیتوب ونه لري ترڅوتولوته دمنلو وړوي ، ترڅو اوریند تأمین شي.ځکه که په دي حکومت کي متنازع فیه شخصیتونه راوړاندي شي حتما هغه طرف چي دهغه سره رقابت لري نه ني مني اوریند ته نه تیاریږي کشمکش ادامه کوي ، داحکومت په چاروباندي نشي مسلطه کیدلي . ملك نه شي اداره کولي ددي له پاره چي حکومت ټولوته دمنلووړوي موږ پیشنهادکووچي په دي کي باید متنازع فیه شخصیتونه نه وي چاچي ترڅه پوري حکومت کړي که دادنجیب ملګري دي که له دنه دمخه دي ظاهرشاه ، اودتیرو حکومتونو،چي چاحکومت کړي هغه باید په دي کي غړي توب ونه لري اوڅوك چي داقتداراوزعامت له پاره کاندیدوي که هغه وورتنظیم لري که ستړهمداچي دګوریه سرتي ببرغ درولي اوګان ته ني امیر ، مشر ، زعیم اوهبرویلي پس هغه داقتدارله پاره کاندید دي هغه دي په حکومت کي برخه نه اخلي له غیرمتنازع فیه کسانونه دي حکومت جوړشي کامل اقتداردي هغه ته حواله شي بیادي انتخابات وشي اوقدرت دي منتخب حکومت ته انتقال شي موږ ني منو . مانوروممشرانوته وویل چي تاسو دحزب په نسبت ویره لري تشویش لري چي مباداحزب قدرت باندي قبضه ونه لګوي کودتاو نکړي اویه کابل عملیات ترسره نشي ، موږ تاسو ته اطمینان درکوو چي له انتخاباتونه پرته حزب نه غواړي چي هیڅ کله هم حکومت جوړکړي راشي دمؤقت حکومت په هکله موږصدارت هم تاسوته پریږدو خپله دوزارتونه برخه هم تاسوته درکوو زه به دنوروتنظیمونو داقرادونو مونه تاسوته درکرم دهرخومره کسانوچي تاسوئي غواړي .ددزکسانو نوموته به درکرم تاسوله دي جملي نه دیرش کسان انتخاب کړي له همدغونه دي مؤقت حکومت جوړشي زه ني منم ، مشروط په دي چي داحکومت به مؤقت وي دسابق حکومت په شان به بیا په مؤبد نه بدلیږي اود هغه له پاره به دفترواګانو دپیداکولو کوشش نه کیږي اوبیا به داحکومت په پیښورکي نه فعالیږي بلکي په کابل کي به فعالیږي اویه همدغه موده کي به انتخابات

کیږي قدرت به منتخب حکومت ته انتقالیږي راځي چي دحزب نه په هروالفاظو اطمینان غواړي موږورته، تیاریو دازموږ اصولي موقف دي مکرراً مواعلان کړي بیاني اعلانوو ، دحزب خبره یوه ده موږ چي ګومه خبره وکړویه هغې باندي ټینګ پاتي کیږو په همدغو خبروتاسرته اطمینان درکوو خوداخبره هم باید هیره نکړي چي که څوك دسازشونو له لاري قدرت ته درسیدلوکوشش وکړي نوهغه نورروته دجنګ اعلان کوي اوداخبره ترټولو ضعیفو تنظیمونو ته خطرناکه ده ، که څوك دانتخاباتو نه پرته له بلي لاري قدرت ته درسیدلو کوشش وکړي له لجیب سره دخبرواترِلّه لاري یادبهرني ملکونو سره دسازش له لاري ددي کوشش وکړي چي اقتدارته ورسیږي نوماته ددي انجام دېر وخیم اوخطرناك بریښي مسئولیت به ني دهغه چاپه غاره وي چي دغسي اصولي اومعقوله لارنه مني اودسازشونوله لاري قدرت ته درسیدلو هڅه کوي مسئولیت به ني دهغه په غاره وي ، لکه حضرت عمر(رض) چي ویلي که څوك دولس دخوښي نه پرته قدرت ته درسیدلو کوشش وکړي نوله دي نه دي وویریږي چي دي اوهغه څوك چي دده دراوستلو کوشش کوي دواړه خپل سروخوري ، حقیقت دغه دي څوك چي دبلي لاري نه قدرت ته درسیدوکوشش کوي اودچاداراوړاندي کولو سعي کوي نوهغه باید په دي وویریږي چي خپل اوهمغه کس چي دراوړاندي کولو اراده ني لري سرونه خوري .

موږدي ته تیاریو چي ټولو احزابو ته په دي خبره اطمینان ورکړوچي دانتخاباتو نتائج به منو، موږ دولس ارادي ته احترام لرو داملك هغه آزاد کړي دادهغه دقربانیو نتیجه ده چي نن ستاپه لاس کي ني قیادت اومشرتابه دي اوموږ په دي ولس اعتمادلرو ، داددوي حق ګنو، دوي چي په چا اعتماد وکړ دهغه حکومت متوافغان ولس چي څوك دحکومت کولو له پاره اهل اومستحق وګڼلو موږ دهغه حکومت منو، دازموږ سیاسي دریځ نه دي دازموږ اعتقادي دریځ دي ، موږ په دي خبره عقیده لرو زموږ له نظره اسلام دامیر دانتخاب حق امت ته ورکړي اویه دي خاطرموږ په خپل حزب کي هم انتخابات کړو اویه ملت کي هم دانتخاباتو غوښتونکي یوځکه زموږ عقیده دا ده چي داالهي امانت دي دخلکو پوري مربوط هغه چي په چاباورکوي دکارله پاره ني اهل ګني دوي په خپل امیرانتخابوي موږ په دي خاطر انتخاباتوباندي اصرارکوو ځکه که انتخابات نه وي خوبیابه یا د زور له لاري حکومتونه جوړیږي ، یابه دوسلي داستعمال له لاري ، یادکودتاګانو له لاري یادبهرني سازشونو له لاري اوياداچي خومشران به په خپلو مینځونوکي کیښیني قدرت به په خپلومینځونوکي توزیع کوي زموږ له نظره داټولي لاري خطرناکي دي اوعواقب ني وخیم دي . موږ په دي باورنه لرو چي حکومت دي داسي جوړشي چي څوکسان دي په خپلومینځونوکي په پته

کیني او قدرت دي په خپلو مینځونوکي وویشي . حضرت علي کرم الله وجهه ته دحضرت عثمان (رض) دشهادت نه بعد ځیني کسان کورته ورغلل اوورته ني وویل چي دخلافت اوامارت له پاره مستحق ته ني راوړاندي شه موږ درسره بیعت کوو هغه وویل چي بیعت دپټوکوټو کارنه دي که داخبره رښتیاوي نویه جومات کي به ددي فیصله کیږي ولس به ددي فیصله کوي عامي جلسي کي په جومات به ددي فیصله کیږي ، ولس به ددي فیصله کوي عامه جلسه کي په جومات کي هغه په پټوجلسو کي دجابیعت ونه منلو داخبره ني" قبوله نکړه چي په پټو جلسو اوخلوت کي به دچادامارت فیصله کیږي اوڅوك به ووسره بیعت کوي ، قدرت به ویشل کیږي نه ګوري حضرت عمر(رض) چي شپږ کسان معرفي کړي وو داسي ونه شول چي حکومت په شپږوکسانوویشل شوي وي هریوه ته یووزارت ورکړ شوي وي بلکي دهغوي له مینځ نه یوکس هغه هم دمدیني دخلکورای ته درجوع له لارې نه ټاکل شوي بیا ټول شرعي صلاحیتو نه هغه ته سپارل شوي بیا هغه حکومت جوړکړي، موږ دغسي حکومت اصلا غیرشرعي منوچي قدرت دي په خوتنظیمونو وویشلي شي .

بیادي هروزارت یېل دولت وي هروزارت دي دخپل تنظیم دفتروي هروزیردي دخپل یېل امیر پیروي داسي حکومت نه شي چلیدلي داحکومت ځوورځي هم دوام نه شي کولي مؤقت حکومت دغسي وو داسي حکومتونه

ځنګه کولي شي دافغانستان غوندي پېچېده حالات سمبال کړي چي هلته هره لحظه دفتنو احتمال شته له بهرنه ناولي لاسونه اوچت شوي دي څوك قومي فتني راتحریکوي، څوك ژبني ، څوك منطقوي ، څوك مذهبي له هري خوانه ناولي لاسونه له بهرنه راوړوده شوي دي دغسي پیچیده حالات کنترولول ددغسي ضعیفو حکومتونو کارنه دي چي وزارتونه دي په تنظیمونو ویشل شوي وي . موږ وایوانتخابات دي وشي منتخبه .مقتدره شوري داهل حل اوعقددي جوړه شي ددولت رئیس دي مخامخ دملت نه انتخاب شي ترڅومه قوي اومقتدررئیس دولت وي، دهغه په ځنګ کي دي منتخبه شوري دټول ملت نمایندہ شوري وي په دي ترتیب دي حکومت جوړشي حکومت په تنظیمونونه ویشل کیږي .

ورونو موږ دافغانستان دمسئلي دحل له پاره همداپیشنهاد کوو تنظیمونوته وایو راشي یوبل ته لاس ورکړو کم له کمه ددغوتولو په ګډه مقابله وکړو، راشي درژیم دپرځولو له پاره ګډعملیات ترسره کړو، په کابل دګډوعملیاتو له پاره ځان تیارکړو ددي له پاره یوه مشترکه عسکري شوري جوړه کړو هغې ته اختیارورکړو هغه دي دجنګ له پاره مشترك پلان جوړکړي دټولو تنظیمونوجهادي ځواکونه دي درژیم دپرځولو له پاره سوق کړي چي رژیم نسکورشوبیادي قدرت یومؤقت حکومت ته انتقال شي ، راشي دکابل اوسیدونکو ته اطمینان ورکړوهغوي په دي خبره پوه کړو چي مجاهدین نه غواړي په کابل مزایلونه ووروي نه غواړي کابل وران شي مجاهدین نه غواړي چي دوسلي سره دي کابل ته داکورشي مجاهدین داکارکولي شي که په ګردیز، خوست په جلال آباد عملیات ترسره کولي شي نویه کابل ني هم کولي شي خوهغوي نه غواړي چي دګردیز، دجلال آباد دخوست پیښي دي دلته کابل کي هم تکرارشي ځکه دلته ني نتائج ترهغه نه هم وخیم اوخطرناك دي، دلته دوه ملیونه خلك اوسیږي .

زه یقین لرم چي که دکابل ولس نن جرئت وکړي منظم شي سرکونوته راووځي مظاهري وکړي خپل نفرت دي درژیم په خلاف څرګند کړي اودنیا والوته وښیي چي نور ددي رژیم په ځنګ کي نه دي په خوورځوکي به دارژیم نسکور بیږي که دروساتو دپوځ دکودتا مخه په مظاهرونیول کیدي شي نو لجیب څه کاره دي چي په مظاهروسره دي هغه نسکورنه شي زه باورلرم چي څومظاهري هم دهغه دراپرځولو لپاره کفایت کوي باید موږ دکابل ولس ته اطمینان ورکړو اوهغه دي ته تشویق کړو چي ددي په ځاي چي په کابل مزایلو نه واوریږي مجاهدین لویه حمله په کابل ترسره کړي هغوي دي راپورته شي منظم دي شي اودرژیم په نسکوریدو دجنګ په خاتمه کي دي فعاله ونډه واخلي هغوي یوهیږي چي دقحطي عامل نجیب دي دلوږي عامل نجیب دي که قیمتي ده باعث ني همدارژیم دي خپله نجیب اعتراف کوي چي دافغانیو دارزښت دکمیدو یوه وجه داده چي دولت مجبورشوي بي پشتوانې اسعارچاپ کړي ، دالوي خیانت دي دولس په نسبت لوي ظلم دي ددنیا هیڅ حکومت ددغسي لوي اوسترخیانت اعتراف نه کوي . ولي نجیب صریحا وائي چي موږ بي پشتوانې نوټونه چاپ کړي . یعني دافغانیو دارزښت درالویدو دقیمتي لوي عامل همدغه څه دي چي هغوي بي پشتوانې اوبي اساسه نوټونه چاپوي . موږ باید دکابل ولس ته ووایوچي شاید دمجاهدینو دحکومت دراتلوسره سم نورداجعلي نوټونه لغوشي اودي ته مجبورشي چي نوي اسعا روباسي په دي ترتیب تاسونه باید داافغاني ذخیره کړي ، نه باید په دي افغانیو اعتماد وکړي ځکه داناچل نوټونه دي داآینده نه لري دادي دانن چي ماته راپوروارسیدلي یوه دسیلو دوږي په دري سوه افغاني ده همغه دسیلودوږي چي څوکاله دمخه پنځه افغاني وه نن په دري سوه افغاني ده ، هغه دوږي چي څوکاله دمخه په دوه افغاني اخیستل کیدله اوس په پنځوس افغاني هم نه پیداکیږي ددي قحطي او قیمتي عامل نجیب دي ولس ښه پوهیږي خومجاهدین باید هغوي داډه اومطمئن کړي ترڅو هغوي درژیم په پرځولوکي فعاله ونډه واخلي همدارنګه موږ بایدپوځ داډه اومطمئن کړو چي که تاسو غواړي خپله ګذشته جبران کړي ، که دخپلي ګذشتي دجبران لاري لټوي نه غواړي پوځ متلاشي شي نه غواړي دپوځ افسران بووخیم اوخطرناك انجام سره مخامخ شي نوراځي منظم شي دارژیم چي دجنګ دادامي عامل دي تاسي هم دهغه په نتیجه کي وژل کیږي او ستاسویه لاس ستاسوقوم اوولس هم

په قتل رسیږي محدودشمیر افسران ددي کارله پاره کفایت کوي مجاهدین تاسوته اطمینان درکوي .

موږددي له پاره داخبره کووچي اصلاً نه غواړوچي کابل چور اوچپاول شي کابل وران شي اوهلته دملت ټولي شتمني تاراج شي، ددي له پاره وایو چي پوځ ته موقع ورکوو چي هغه دي څه موثر رول اداکړي . موږمخکي هم داخبره ثابته کړه ، ځیني ناپوه خلك چي نه پوهیدل حزب اسلامي دڅه له پاره داکارکوي هغه انقلابي حزب چي په خشونت اوتشددمتهم دي ، هغه ځنګه دپوځ افسرانوته موقع ورکړه اودهغوي دقیام ملاتړئي وکړ، هغوي ناپوه دي نه پوهیږي چي حزب دڅه له پاره داکارکوي ، موږ دیولوي مصلحت په خاطر داکار کوو، دخپل ولس له پاره داکارکوو، دخپل ملك دآینده اودمستقبل

لپاره داکارکوو، موږته اشخاص دومره مهم نه دي، موږته ټول قوم اوولس مهم دي که داشخاصوخبره وي نوترټولونه دمخه مابه دخپل پلار اوددوشهیداتو ورونو انتقام اخیستي ، متاسفانه نوروتنظیمونو ددي په ځاي چي دغسي کسان تشویق اوترغیب کړي برعکس داسي څه ني کړي چي ددغسي افسرانو روحیه وټکوي اودمجاهدینو په ځنګ کي دودریدو عزم ني ختم کړي .

زموږنظرداوي چي راځي ټول په ګډه دپوځ افسرانو ته اطمینان ورکړوچي موږدومره عالي همت لرو. مجاهدین دومره دلوږ همت خاوندان دي چي بوازي له هغه چاسره به خپله خبره سپینوي چي په سنګرکي دهغه په مقابل کي پروت وي خوچي څوك تسلیم شي دخپلي ګذشتي نه نادم اوپښیمانه وي لاس اوچت کړي دمجاهدینو ملګرتیاوغواړي اسلام ته راوګرځي نومجاهدین دومره بي همته نه دي چي ددغو خلکونه انتقام واخلي، بلکي هغه خپل ورونه ګني اودهغوي قدرکوي دازموږ شخصي فیصله نه ده دازموږ دپیغمبرعلیه السلام دعالي شان پیغمبر(ص) عمل دي هغه هم چي دفاتح په حیث مکي ته داخل شونو چي چاوویل نن دانتقام ورځ ده وېته به توتبیږي هغه ني دخپل منصب نه عزل کړه قوماندان دلښکر وو ویل چي نه نن دترحم ورځ ده ټولو اسراووته بي وویل چي اذهبوا وانتم الطلقا ، ځئ تاسو آزاد یاستي ، وبي فرمایل چي څوك داېوسفیان کورته داخل شوهغه خوندي دي که چاپرځان یسي دخپل کوردروازه وتړله هغه مصئون دي ، هغه ته امان ورکړشوي دي چي څوك حرم ته داخل شي هغه مصئون دي ، موږ خلکو ته وایوچي داموږ دخپله طرفه نه کوویلکه دازموږ دپیغمبر(ص) سنت دي ، اسلام موږته دهمدي خیري درس راکړي موږ وروڼوته همداوایوچي راځي پوځ ته هم اطمینان ورکړو دکابل ولس ته هم اطمینان ورکړو .

ورونو موږ دافغانستان دمسئلي حل غواړو دجنګ پاي اوخاته په افغانستان کي دسولي اودامن اعاده بیاداافغان ولس دخوښي منتخب اسلامي حکومت ، دخپل ملت یووالي غواړو دیووالي اووحدت له پاره هري قرباني ته تیاریو ددي له پاره چي په افغانستان کي زموږ دملت دخوښي اسلامي منتخب حکومت وي نوموږ دامبارزه پیل کړي اویه زرګونو شهدامووړکړي ، موږ به دهربهرني سازش په خلاف په میړانه سره ودریږو، هیڅاته به موقع ورنکړو چي دافغانستان په داخلي امورکي مداخله وکړي، هیڅوك به پریږدوچي دخپلي خوښي حکومت زموږ په ولس تحمیل کړي، ددوستانو نه هم زموږ انتظاردادي چي ددوستي احترام به کوي، اودهغوي خبره به تل داوي چي افغان ولس ته دي موقع ورکړي شي چي دخپلي خوښي حکومت جوړکړي خپل سرنوشت په خپله وټاکي، ددوستي تقاضا همداده ،هرهغه څوك چي ددي نه پرته دي هڅه وکړي چي بهرني سازشونو کي ملوث شي اودافغان ولس داحق ختم کړي اوغواړي چي دبهرنه دي پرافغان ولس دپردیو دخوښي حکومتونه د تحمیل شي، نو افغان ولس ددي منلوته تیارنه دي ، بیا موږ دادوستي نه بلکي دښمني ګڼو اودښه همسایه توب ددوستي تقاضا داده چي موږ به دیوبل دآزادي اواستقلال احترام کوو اویه یوبل به دخپلي ارادي دتحمیلولو هڅه نه کوو، دیوبل په داخلي امورکي به تشبث اومداخلت نه کوو دابه تیبرېږدوچي دیوبل له لاري دبل په کورنیو چاروکي دي دښمنان مداخلت وکړي، موږیه دپاکستان اوایران نه ډېر خپه وو که هغه پرېږدي چي ددوي له لاري دامریکا منصوبي په افغانستان کي پیاده شي، سره له دي چي مطمئن یو انشاء الله پاکستان به په هیڅ وخت کي

داغلطي ونکړي، پاکستان ولس په دي دبارلس کلن جهادکي په اخلاص اوصداقت سره زموږ په ځنګ کي ودریدلي اوستونزي اوکړاوونه ني ګاللي، فشاروتوته نه دي تسلیم شوي، امریکا فشارواردکړي ، هند فشارواردکړي، روس تهدیدکړي چي دمجاهدینو دملګرتیانه لاس واخلي خوهغه دي ته نه دي تیارشوي ، زه یقین لرم چي انشاء الله له دي نه بعد به هم په پاکستان کي هیڅوك داغلطي نه کوي چي دهغوي له لاري دي په افغان ولس باندي دپردیو دخوښي حکومت تحمیل شي داسي حکومتونه صرف داتنیجه ورکولي شي چي دافغان ولس اودپاکستاني ولس ترمینځ دي مناسبات خرابرشي اماداچي داحکومت دي راشي بیادي ملك اداره کړي شي دامحال دي موږیه پریږدو چي ددي دواړو ملکونو دولسونو ترمینځ چي کوم تیږدي دوستانه دورورولي تعلقات اوروابط راپیداشوي دښمن دي داروابط خراب کړي اوداپیوند دي وشلوي ، دوبروقربانیو په قیمت هغه دتباعدتفرقي اودښمني حساب په دوستي او ورور ولي بدل شوي پرون چي ددي دواړوملکونو ترمینځ کوم تباعدوو فاسدو حکومتونو هغه ایجاد کړي والحمد لله هغه فاصلي نوري ختمي شوي ، پرون به ستاسویه یادوي چي دافغانستان ټول پوځ دپاکستان په سرحداتو کي ځاي په ځاي وو اودافغانستان دپوځ افسرانوته به ویل کیده چي ستاا صلي دښمن په دي منطقه کي پاکستان دي اوچي کله به هم هغوي عسکري ټمرینات ترسره کول نوپوځ ته به پاکستان ددښمن په حیث ښودل کیده اوفاکس لیند . به پاکستان وو ، عسکري ټمریناتو کي دښمن منطقي ته یونوم ورکولي کیږي بیا دهغه خصوصیات هم دپوځ افسرانو ته ښودل کیږي زموږ دپوځ افسرانو ته به همداویل کیده چي ستااصلي دښمن په دي منطقه کي پاکستان دي، اوس که دپاکستان پوځ ته تربیت اوروزنه ورکول کیږي عسکري ټمرینات ترسره کوي نو دهغوي فاکس لیند هند دي ترڅوډهنا او عملا دهغه مقابلي ته تیاروي خوزموږ دپوځ افسرانو ته به ویل کیده چي ستااصلي دښمن پاکستان دي زمایه یادي چي چاته به ویل کیده چي دامریکا جاسوس ني نوداددومره خطرناکه خبرنه وه ، دپیغورخبره هم نه وه که ویل کیده چي د کي جي بي جاسوس ته ني خپنو خوحتي په افتخارداخبره منله خوچي چاته به وویل شول چي داپاکستان سره رابطه لري نودا ترټولو خطرناکه خبره وه .

اوس هغه دپرون ورځي ګرکه نفرت اودښمني په دوستي اوورور ولي اومحبت بدل شوي اوس دافغانانو اوپاکستانیانو وینې په یوسنګر کي دیوبل ځنګ ته تویي شوي ، دي خواته دروساتو طیاري راغلي اوبمباري ني کړي اوپاکستانیانو په دي جهادکي برابره برخه وه نوداپه ډېر ګران قیمت ترلاسه شوي دي دا ډېره لویه سرمایه ده ددي منطقي ملکونه اوولسونه سخت دي ته اړدي ترټولو زیات پاکستان دي ته اړدي داني په ډېر ګران قیمت ترلاسه کړي داپه اساني له لاسه نه ورکوي اوزه باورلرم چي انشاء الله دابه نه کیږي هسي پاکستان به ترفشارلاندي وي اوځني کسان به هم دغسي تشویشونه

اوسوالونه راپیداکوي چي کیدي شي پاکستان دجهاد او دمجاهدینو خلاف څه قدم اوچت کړي خوزه واډه اومطمئن یم چي انشاء الله په هیڅ صورت کي به داغلطي په پاکستان کي څوك نه کوي اقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

بقیه نامه

میگذارند . نیز خطاب مي کنیم که مصالح علیاي جهاد ووطن اسلامي ما را قرباني عقده ها وحسادت هاي خود نه سازند ، ملت در انتظار قیادت صالح مجاهد وانقلابي اصیل است.

دراین روز هاي دشوار اخیر ، نباید احتیاط را از دست داده دشمن درکمین است ، بایست همیشه بیداروموافب بود. ما جوانان که بهترین روز هاي زنده ګي خود را دراسارتګاههاي مرګبار کفروکمونیزم ګذشتانده ایم ، نه تنها به ایجاد وتاسیس حکومت عدل اسلامي ، امیدوار میباشیم-براي تحقق آن هم چنان خواهیم رزمید . ازتوشاه نحیف وضعیف وبیچاره مي طلبیم که شر مزاحمت و ګرفتاري خود را ازسرما دور کن یقین کامل داریم که تو وامثال تو ازمحاکمه بي چون و چراي الهي درامان نخواهید ماند ، وان شا ما لله بدست فرزندان سرسپرده اسلام ګرامي به کیفر اعمال تان خواهد رسید . آینده ازاسلام است ، انقلاب اسلامي پیروز میشود.

بقیه سرمقاله

به پست هاي دلخواه شان برسند زیرا درمیدان جنګ پاي اینها لنګ است وبهیچ مقصدي نائل نمي شوند .

ګرچه تلاش هاي ملل متحد درقضیه افغانستان از دیرپازیه اینسو توسط نمایندګان آن (کوردوویزوبنین سیوان) تعقیب میګردد ومعاهدات بین المللي اي هم دررابطه امضا ګردیده است ، ولي تاالحال حاوي کدام نتیجه عملي نبوده است ، مګراینبار که حکومت پاکستان ورژیم کابل ازآن استقبال نموده است، ګمان میرود که درپشت پرده پشتوانه عملي براي آن تعبیه شده باشد. چنانچه وزارت خارجه پاکستان بیانیه اخیرملل متحدرا ګام مثبت درجهت حل قضیه افغانستان تلقي کرده ضمنا ازرهبران مجاهدین افغانستان تقاضا نمودتابه طرح ملل متحد تن دردهند، حتي به این الفاظ که قضیه افغانستان درنزد چندرهبر انعطاف ناپذیرمجاهدین اسیرنخواهد ماند. بعدازبالاګرفتن شایعات تغیر پالیسي پاکستان درقبال جهاد اسلامي که نشانه نخستین آن هماناسفرفرمانده ارتش این کشوربه مردم ودیدارپا نزدیکان شاه مخلوع بود، استقبال ګرم ازتقاضاي سرمنشي ملل متحد وتوصیه به رهبران مجاهدین درمذاکره بادشمنان جهاد، دومین نشانه تغیرپالیسي این کشور دربرابر مجاهدین است . هرچند هنوز نمیتوان یقین کردکه دولتمردان پاکستان بعدازچهارده سال حمایت ازجهاد ، اکنون ازموضع سابق شان انعطاف کنند، ولي قدرمسلم اینست که علاوه از تغیرات ملموس مزبور، یکعده افراد طرازاول حکومت وارتش پاکستان که ګفته مي شد ازحامیان جهاد به شمارمیروند ، بالتدریج ازصحنه سیاسي کنارزده مي شوند . اګر از تکراردلائل شهادت جنرال ضیاء الحق وبازنشسته شدن جنرال اسلم بیګ بګذریم ، اظهارات تکان دهنده چهار روزقبل جنرال حمید ګل درفرداي عزل وتقاعد اوازارتش بخوبي نشان میدهدکه دشمن براي انقلاع پشتوانه هاي جهاد چه برنامه هاي دردست اجرادارد !!

درروشني همین ظروف مساعداست که بعضي عناصر وابسته بغرب، جرئت حرف زدن علیه دوستان جهاد رامي یابند . بدیهي است که ملت مسلمان پاکستان وبالاخص تنظیم هاي اسلامي درطول سال هاي هجرت بیشترین خدمت را به مهاجرین ومجاهدین نموده اند ، کساني پیدامي شوند که به ایما و اشاره امپریالیسم وصهیونیزم علیه این ګروهها وعناصر تبلیغات سوء مي نمایند . یګانه قصور تنظیم هاي اسلامي پاکستان درنظرعناصر وابسته بغرب اینست که اینهاباسازش هاي بین المللي علیه جهاد مخالفت نموده اند ، اعاده ظاهرشاه را به افغانستان ناممکن دانسته اند ، فرضیه ایجاد حکومت ائتلافي باکمونست هاوغربي هارا مردود دانسته اند وبالاخره براي توحید وهمبستګي صفوف مجاهدین تلاش وهمدردي نموده اند اګر برادران انصارپاکستاني ما اهداف فوق الذکر راازنظردوربیندازند ، درآنصورت آنهاګویا هیچ مداخله درامور افغانستان ننموده اند !

همین آقایوني که امروز علیه برادران انصار ګستاخي مي نمایند، چند روزقبل به پشتوانه غرب باعین الفاظ علیه مقامات دولتي پاکستان تاخت وتازمیکردند. ولي همینکه شایعات تغیرپالیسي حکومت پاکستان درقبال جهاد بالاګرفت وافواهات تفاهم باظاهرشاه ګسترش یافت، بالاخره پیشنهاد اخیرملل متحد توسط مقامات حکومتي استقبال ګردید، همین اقایون به تائید موقف حکومت پرداختند . تعجب درآنست که استقبال حکومت پاکستان ازدعوت نامه اخیر سرمنشي ملل متحد و تشویق رهبران مجاهدین درسهمګیري به آن ، همزمان ازجانب رژیم کابل وګروهکهاي غربګرا تمجید ګردید . اګر واقعا ګروههاي غربګرا بنابه زعم خودشان که مجاهد اند، درادعاي شان صادق باشند، پس چه موجبه اي درمیان است که موقف مجاهدین ودشمن آنها (رژیم کابل) دربرابرطرح ملل متحد وموقف پاکستان یك سان باشد !

درهماهنګي مواضع رژیم کابل وګروهکهاي غربګرا باصراحت دانسته مي شود که ملل متحد دُرد طرح آشتي ملي نجیب را درعمل پیاده میکند ویکعده عناصر مطرود ازسنګرهاکه دیګربراي ملت مسلمان ما قابل قبول نیستند وازسوي هم ناګواري وضیقي شرایط امکان استقرار آنهارا دردیار هجرت مشکل نموده است ، خودرا براي اینکارکاندید نموده اند . این عناصرباید بدانندکه چنین خواب هاوخیال هارا بګورخواهند برد . اګر قراربود ملت مسلمان افغانستان به ننګ سازش با عناصرکمونیست ووابسته بغرب تن درمیداد ، پس چهارده سال جهاد علیه بزرګترین ارتش جهان وعوامل مزدورآن بخاطر چه بود؟ آیا امکان نداشت که درهمان اوایل وهله که نه هجرتي بود ونه هم سنګري ،مسلمانان باقبول سیادت کمونست ها وطرزفکرمنحط آنها ازشهادت بیشترازیك ملیون ونیم مسلمان جلوګیري میکرد ونمیګذاشت که شش ملیون افغان آواره ودربدر به کشورهاي همجواروغرب سرازیرمي شد وبهمین ترتیب بازداشتن از صدها مصیبت جانکاه دیګر .

حقیقت امراینست که تحمل این همه مصیبت ها ودادن این همه قرباني ها بخاطر آنبودکه ملت مسلمان افغانستان مي خواست دربرتوارزش هاي والاي اسلام ودرسایه حکومت اسلامي زندګي کنند .این قوم بهیچ چیزي غیرازنفاذ اسلام درتمام شئون حیاتي شان راضي نمي شوند وهرکوششي درازاي این آرمان نتیجه اش همانست که کمونست هاباآن مواجه ګردید .

اګرعناصر وابسته بغرب به طرح آشتي ملي رژیم کابل راضي شده اند، بهترآنست که آنها بیشتر ازین ملت ومجاهدین را فریب ندهند وباکمال جرئت درکناررژیم قرارېګیرند ، زیرا حالا رژیم کابل از مواضعش انعطاف نموده و درمورد پذیرش سلطنت طلبان وعناصرغربګرا اشکالي نمي بیند وغرب هم به صدها مرتبه یك رژیم ملحد مرکب ازکمونست هاوسلطنت طلبان وملیګراهارانسبت به رژیم اسلامي ترجیح میدهد .

اګراین مسأله صحت داشته باشدکه مواقف رژیم کابل وحکومت پاکستان درقبال حل قضیه ومعامله ګري هاي ملل متحد وترکیب نظام آینده وچهره هاي که آنرا تمثیل مي کنند توحید شده باشد، طبعا که توطئه ها علیه جهاد عمیقتر ګردیده است ، درچنین شرایط حساس وسرنوشت سازبرهمه نیروهاي مخلص وموثر درجهاد اعم ازمهاجرین وانصار لازم است که باتمام قوا خودرابراي مقابله باچنین توطئه اي آماده کنند . ګروههاي مخلص واصیل جهادي که لله الحمد باداشتن نفوذ درداخل کشور ، کلید رتق وفتق اموررادردست دارند ، بیشترازین سکوت اختیارننمایند وبادادن دست اخوت ووحدت بهمدیګر ، اخلاص وصداقت شان رابه جهاد واسلام عملا ثابت کنند . مامطمئنیم که اګرچندګروه مؤثرومخلص که درقبال قضایا داراي ستراتیژي واحداند، باهم کناربیایند هیچ دسیسه علیه جهاد کارګرنخواهد افتاد، ګرچه دشمن ازراههاي مستقیم وغیرمستقیم نمي ګذاردکه چنین یك روحیه اي درمیان مجاهدین ایجاد ګردد ، ولي هرتصمیمي به همت ، توکل واخلاص مسلمانان عملي است وهیچ زوروتزویري سدایجاد آن شده نمي تواند .

ارشاد نبوي

مومنان راستين را در مهرباني ، دوستي وعطوفت با يكديگرشان ، همچون پيكر واحدي مشاهده مينمايي كه هرگاه عضوي از اعضاي ايشان ناراحت گرديد ، آسايش همه آنان برهم ميخورد .

(بخاري ومسلم)

اخبار جهان

امريكا بايد داسرائيلو دنوو آباديو مخه ونه نيسي

تل ابيب – دسلواغي ٨ نيټه :

داسرائيلو صدراعظم اسحق شمير وويل چي امريكا دي داخبره هيره كړي چي اسرائيل بايد په اشغال شوو سيموكي دنوو آباديو دجوړولو كارېند كړي .

اسحق شمير ددي خبرډخبريدو نه وروسته چي واني دامريكا دبهرنيو چارو وزير جيمزبيكر ويلي دي چي امريكا به داسرائيلو له پاره دلس مليارده ډالرو دپورتضمين لغوكړي داخبره ني كړيده .

دايتاليا مشرتابه دچين دلمړي وزيرسره وكتل :

روم – دسلواغي ٨ نيټه :

دايتاليا مشرتابه دچين دلومړي وزير ليبنگ نه په روم كي غوښتي دي چي دړژيم مخالف كسان چي بنديان دي هغه دي خلاص كړي .

دايتالبي دحكومت مشرجيولو خپل ميلمه ته په دي برخه كي دبري اشاري غوښتنه وكړه چي دده دوينااله مخي دغه كاردراتلونكي له پاره گټوردي .

دچين دلومړي وزير دسفرپه ضد ديراحتجاجونه روان شوي دي، دچين دحكومت مخالفينو داروپا دټولني دهيوادونو نه غوښتني دي چي دبيكنگ سره خپله اقتصادي مرسته دانساني حقوقو دمراعات كولو پوري وتړي .

په نوگورنوقره باغ كي ٦٠ تنه ووژل شول :

مسكو – دسلواغي ٨ نيټه :

دنوگورنو قره باغ په غرني سيمه كي دارمنيانو اواذربايجانيانو ترمينځ دجگړي په بهيركي تراوسه پوري شپيته كسان وژل شوي اوگڼ شميرنور ټپيان شوي دي .

داخبره په مسكو كي دارمنستان دنمايندگي آژانس ويلي دي .

دقره باغ په دغه سيمه كي هغه ارمنيان جنگيږي چي دارمنستان ته آزادي غواړي .

آخرين سنگرهاي هواداران گمسخوردیابدست مخالفينش افتاد

تبليسي – ١١ دلو :

درگزارش هاي رسيده از گرجستان گفته ميشود كه نيروهاي دولت مؤقت دربندرپاتوني درجواردرياي سياه مسلط شده اند، اين بندريكي ازآخرين سنگرهاي باقيمانده گمسخوردیا رئيس جمهوربركنارشده گرجستان بوده است .

درجريان نبرد ديشب درپاتوني سه سرباز وسه تن ازساكنان محل كشته شدند وعده جراحات برداشتند گفته مي شود نيروهاي روسي اكنون درجاده هاي اين بندرگاه گزمه مي كنند وكسي حريف شان نيست . گزارش هاي تائيد نشده حاكي ازآنست كه گمسخوردیا به شهركرامزي پايتخت منطقه مسلمان نشين چچن انگوش رفته است .

وزيرعدليه آلمان ازايران ديدارمي كند :

تهران – ٨ دلو :

كلاس كين كي وزير عدليه آلمان به ايران رفته است تاباً مقامات ايران درمورد روابط اقتصادي وسياسي دوكشورمذاكراتي بعمل آرد و بعلاوه كوشش بيشتري براي فراهم آوردن موجبات رهائي دوگروگان آلماني درلبنان مبذول دارد وي مدت سه روز درتهران باقي خواهد ماند دوگروگان آلماني درسال ١٩٨٩ درشهرصيدا درجنوب لبنان گرفتارگشتند پيش ازآن دوبرادران حمادي درآلمان زنداني شده بودند . درگذشته مقامات ايران به دول غربي وعده داده بودند كه نفوذ خويش را نزد گروه هاي شيعه لبنان بكارگيرند .

ايران درمورد كمك به كشورهاي عربي اظهارآمادگي نمود :

تهران – ٨ دلو :

هاشمي رفسنجاني رئيس جمهور ايران ميگويد دولت اوحاضراست كه هركار ازدستش برآيد براي كمك به كشورهاي اسلامي بخصوص كشورهاي اسلامي منطقه انجام دهد .

وي درجلسهٔ سخن مي گفت كه درآن علي اكبر ولايتي وزيرخارجه ايران وسفيران ايران دركشورهاي عرب منطقه خليج فارس حضورداشتند رفسنجاني به آنان گفت كه دشمنان جهان اسلام بصورت مداوم مي كوشند كه درامرگسترش روابط ايران وكشورهاي عرب منطقه خليج فارس موانع ايجاد نمايند .

چين خواهان اصلاحات اقتصادي است :

پيكنگ – ٨ دلو :

ازقول دينك شياوپنك شخصيت سياسي چين گفته شده است كه وي خواستار آنست كه اصلاحات اقتصادي به سرعت بيشتري عملي شود .

وي اين گفته را ضمن ديدار ازمنطقه شنجن كه يك منطقه اقتصادي مخصوص به شمارمي رود بيان داشت روزنامه كرنگ پاوو چاپ هانك كانگ از قول وي نوشته است كه اصلاحات اقتصادي تنها راه پيشروي چين است والگوهاي سوسيالستي مي توانند برخي از خاصيت هاي سرمايداري را رعايت نمايند .

شهادت

دتجارانودسيمينار په پاي ته رسيد وسره په نصرت مينه كي دڅلورورځنيو سيمينار ونو لړي پاي ته ورسيده

نصرت مينه

دسلواغي (٨) مه نيټه :

دسه شنبي په ورځ دسلواغي دمياشتي په (٨) مه نيټه دسهار په لسوبجو او(٤٠) دقيقوورشيديه دارالايتام په انگړكي دتجارانو اواهل كسبه دو پوروځني سيمينار جوړشو ، دغه سيمينار چي په سل گونو تجارانو پكي برخه اخستي وه دقرآن عظيم الشان دځومباركو آياتونو په تلاوت سره چي دقاري صاحب محمد عظيم لخوا قرائت شول پيل شو.

وروسي د سيمينار برخوالو ته دحزب اسلامي مجاهد مشر پوه ارزښتاكه اوعالمانه وينا واورووله دخپلو خبرو په يوه برخه كي يي داسي وويل :

زمونږ تجار وروڼه په دوپرخوپښتل شوي پوهفه دي چي دمجاهدينو ترڅنگ ولاړدي هجرت يي كړي ، قرباني يي وركړي ، زنداني شويدي اوغواړي چي په افغانستان كي پو سوچه اسلامي حكومت جوړشي.

ځيني نور بيا دعجيب په څنگ وه ريدلي او غواړي چي له دي لاري څه ترلاسه كړي . ورور حكمتيار وويل اوس چي جهاد حساس پړاو ته رسيدلي داسي آوازي هم خپريږي چي گواكي حزب اسلامي كه قدرت ترلاسه كړي نودخلكوځمكي به ضبطوي. دخلكو

قوماندان انجنير زلمي : سنگرهاي جهادي تضمين كننده حكومت اسلامى است

اينك به سلسله مصاحبه ها وگفتگوها باقوماندانان اين بارتوجه خوانندگان گرامي رابه اظهارات برادر غلام سعيد مشهوربه انجنير زلمي قوماندان قرارگاه لشكرايثاركه درولايت لوگر با خبرنگار انا مصاحبه نموده است. جلب مي نمائيم.

برادر انجنير زلمي به جواب سوال كه وضع فعلي جهاد را در مقايسه با سالهاي گذشته چگونه بررسي مي كنيد گفت وضع فعلي جهاد لله الحمد كاملا خوب است اين يك حقيقت است كه مجاهدين از آغاز جهاد تا به حال به تدريج درمقابل رژيم كابل وكشور استعماري روس به موفقيت هاي چشم گيري نائل شده اند وباگذشت هر روزي ملت مجاهد ما دربرابر توطيه ها ودسيسه ها وفشار هاي ناروا وناجايز روس ها بلديت حاصل مي نمايند طوريكه همه شاهد آنيم كه درين اواخر درنتيجه جهاد برحق ملت مجاهد ما كلمه سوسياليزم وكمونيزم ازلابلاي تام كتاب هاي ملحدين برچيده شد وبراي هميش درگورستان تاريخ دفن شد

وتوام با شكست كمونيزم از روسيه رژيم كابل كاملا دست وپاچه شده بدامن ديگران دست درازي دارد.

برادرانجنير زلمي درموردحل قضيه افغانستان گفت امروز تمام دوستان ودشمنان طرح ها ي مختلفي را درمورد حل قضيه افغانستان پشنهاد كرده اند

امنيت در مركز باميان توسط شوراي مشترك احزاب جهادي صورت ميگيرد

ص (٤)

قوماندان نصرالله : دافغانستان دستونزي حل دمجاهدينو په يوالي كي دي

دلوگرولايت ددوبندي دقرارگاه مسؤل مجاهد ورور نصرالله دانا له خبريال عبدالله سره په مركه وويل :

الحمدلله دلوگر په ولايت كي دجهاد حالت دپخوا نه ډېر ښه دي ځكه چي زمونږ له حقه مبارزي نه ټول ملت ملاتړكوي. اكثره دړژيم پلويان اوس دهغو له ملا تړ څخه توبگارشوي موترپوښوچي دهري ورځي په اوږدوكي په سلگونو مليشان اوعسكر دمجاهد ينو لورته راروان دي سربيره پردي لوړ رتبه صاحب منصبانو هم رژيم سره خپل مخالفت څرگند كړي دي . دافغانستان دقضي دحل په باب هغه خپل نظرداسي څرگند كړي:

دافغانستان دقضيي بوازني لاره دمجاهد ينو ترمينځ يووالي دي مجاهدينو ته په كار دي چي په خپلو منځونوكي سره يوشي اوددښمن په مقابل كي يوگډ دريځ غوره كړي.

هغه زياته كړه : دنورو طرحي ملل په دشهيدانوله وينو سره خيانت وي .

مونږ ته لازمه ده چي دخپلو شهيدانو دالوړ آرمان دخاورو سره خاوري نكړو.

ورور نصرالله دملل متحد دپنځه فقرګي طرحي په باب وويل . داپوه څرگنده خبره ده چي ملل متحد داير قدرتونو يوه اداره ده اوفقط دهغوي گټي ساتي مونږته دهغوي پريكړي دمنلو وړنه دي .

نوموړي دلوگر ولايت دمجاهد ينو روحيه ډېره عالي وبلله اووپي ويل په

مجاهدينوكي پوره يووالي موجود دي ددښمن په مقابل كي يوموټي دي خوددپروستونزو سره سره چي مجاهدين د ځينو شيانو دكمبودسره مخامخ دي بيا هم په پوره ميړانه خپلوعملياتو ته ادامه وركوي .

افغان مجاهد ولس لامړندي چي جنازه •••

افغان مجاهد ولس لاتراوسه مړندي چي جنازه يي دنورو په اوږو بارشي ، اوس ددي وخت رارسيدلي دي چي ددي جهاد ددوستانو ددوستي واقعيت راڅرگندشي.

هغه چاچي ددي جهاد سره داسلام په بنا مرسته كړي مونږ مطمئن يوچي هغوي به ني ملاتړته دوام وركړي او هغه څوك چي دخپلو گټو اواهدافو پخاطر ورسره دريدلي وو هغوي به يي له حمايت څخه ډډه كړي اوځان به ورڅخه لري نيسي ده وويل :

كوم دوستان چي نن مونږ ته وايي چي مونږدافغانستان په هكله دافغانانوداكثريت فيصله منو نوددي دجهاد په پيل كي ولي له مونږ څخه دا پوښتنه نه كوله چي تاسو دكابل دړژيم پخلاف دجنگ لپاره دخپل ولس داكثريت دملاتړ څخه برخورداره ياستي اوكنه ؟

پوهاند سياف دملگرو ملتونو دوروستيو هلوځلوپه رابطه وويل چي : داداسلام په خلاف يوسازش دي او كه داسي نه وي نودكشمير اوفلسطين ولانجودحل لپاره په هندوانو اويهودانو باندي ولي فشار نه اچوي.

اوكه ملگري ملتونه غواړي چي په افغانستان كي دانتخاباتو له لياري يومنتخب حكومت جوړشي نوپه الجزائيركي چي مسلمانانو گټلي ده دغه نړيوال سازمان څه وكړل او ولي چپ دي !

داتحاد اسلامي مشر خپل پخواني دريځ يوځل بيا تكرار كړ او ويي ويل چي مونږ به ترهغي خپل وسله وال جهاد ته ادامه وركړو ترڅوچي په افغانستان كي دمجاهد ينو په لاس اسلامي حكومت نه وي جوړشوي ، اومونږ به هيڅ ډول فشارونواوگواښونوته سرټيټ نكړو، اوځموږله نظره داوسنيو طرحومنل دامعني لري چي مونږ دماښام دآذان په ځاي دماسپښين په آذان باندي روژه ماته كړو.

ده دخپلو څرگندونو په پاي كي دمجاهدينو ترمنځ دبه تفاهم درامنځته كولوپخاطردقاضي حسين احمد، مولانا سميع الحق اومولانا فضل الرحمن دمخلصانه اونيكو هڅو ستاينه وكړه اوله هغه مطبوعاتي بيان سره ني چي دبوي جهادي منبع لخوا ددغو پاكستاني سياست پوهانو په خلاف ليكل شوي وو خپل مخالفت څرگندكړ اوهغه يي دهغو خلكو د شخصي ذهنيت اختراع وگڼله .

دالبنيان خبري آژانس

يادي ازشهيد عبدالواحد "وحدت"

شهيد ضابط عبدالواحد وحدت فرزند عبدالاحد درسال ١٣٣٤ دريك خانواده متدين درقريه درين ولسوالي كامديش ولايت كنر ديده به جهان كشود وي بعد از تحصيلات ابتدايي شامل ليسه حربي گرديد وبا روي كارآمدن رژيم الحادي درسال ١٣٥٧ به جهاد مسلحانه پرداخت درعمليات بزرگي چون فتح بريكوت شيگل ، ولسوالي اسمار وغيره سهم فعال داشت دربرج ميزان سال ١٣٥٨ به چترال مهاجر گرديد وازسال ١٣٦١ - ١٣٦٣ به دستور رياست تعليم وتربيه مصروف خدمات فرهنگي درمتوسطه حضرت علي كرم الله وجهه شد شهيد عبدالواحد وحدت بنابه تقاضاي مجاهدين جهت اشتراك درشورا يكه بخاطر رفع مشكلات مجاهدين تاسيس شده بود عازم وطن گرديد وحين بازگشت به چترال صدوپنج كيلومتردورتر ازقريه درين به كمين عناصر پليد وگماشتگان كمونيست ها مواجه شده ، ساعت هشت ونيم صبح مورخ ١٣٦٩/١/٩ بشهادت رسيد. يادش گرامي باد

شهادت

بيانگرعقايد وآرمانهاي حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنير "حكمتيار"

صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان

ناشر :رياست ارشادوفرهنگ

سال تاسيس : ١٣٥٧ هجري شمسي

تحت نظرهيئت تحرير

تلفون : ٦٣٧٨٩- ٣٠٢٢٤ پشاور

پوست بكس (١٤٦٥) يونيورستي تاون پشاور

دبنگله ديش حكومت دبرما دمسلمانانو وبرجن حالت انديښمن كړيدي

داكه – دسلواغي ٤ نيټه :

دبنگله ديش حكومت دلويديزي برمادحالاتوپه هكله ژوره خواشيني ښكاره كړي .

په دي ځاي كي دبرمالښكروداراكان دولايت دمسلمانانو پرضد دتشددنه ډكي هلي ځلي پيل كړي دي .

رپوټونو وايي چي دشپيتوزرونه زيات مسلمانان له برمانه بنگله ديش ته اوښتي اودغه هيواد دمهاجروپه كمپونو كي يي اړولي دي .

دغو مسلمانانو ويلي چي دبرما پوځونو ددوي كورونه وران كړي اودوي ني وهلي دي .

دبنگله ديش دحكومت يومشرورزيرعبدالسلام تعلق دا ويلي چي دده حكومت درنگون دپوځي رژيم نه ددي خبري ضمانت غوښتي چي دهغه هيوادوگړي به په خپله خاوره كي اوسيدلوته پريږدي .

ده وويل چي كه چيرته درواتو حالاتو په هكله دبرمادحكومت سره خبرو نتيجه ورنكړه بيابه بنگله ديش دنړي وال مينځ گړتوب غوښتنه كوي .

كنفرانس مسكو بدون اشتراك فلسطيني ها آغازشد

مسكو – ٨ دلو:

تركيب هئيت فلسطيني دركنفرانس مسكونيز مثل تركيب اين هئيت در آغاز مذاكرات صلح شرقيمانه در مادريد رابخود گرفته است.

اسرائيل اصرار دارد كه اعضاي هئيت فلسطين بايد تنها ازساحل غربي رودارد ن وباريكه غزه باشد ايالات متحده و روسيه كه مشتركا سرپرست كنفرانس مي باشند اين شرط راقبول كرده اند از همين جهت وقتي فلسطينيان فهرست هئيت خودرافرستادند ودرآن يكعده فلسطينيان ساكن بيت المقدس واروپاشامل بودند اين فهرست ردگرديد .

شب گذشته مذاكره كنندگان به حل اين معضله موفق نگرديدند صائب عضو هئيت فلسطين گفت هئيت فلسطين بايد ازجانب فلسطينيان انتخاب شود نه ازجانب اسرائل .اواظهارات داشت كه اسرائيل نميتواند اراده خود را به ايالات متحده روسيه عربها وسراسر جهان تحمل نمايد هئيت هاي بيش از (٣٠) كشوردرمسكواشتراك مي نمايند كه درآن بركنترول اسلحه ، محيط زيست ، منابع آب وهمكاري اقتصادي بحث خواهد شد.

يلتسن دربندر نواوسك مصروف مذاكرات است

مسكو ٨ دلو

اين خبرتائيد شده است كه بوريس يلتسن رئيس جمهورروسيه اكنون در بندر نوواوسيك كه دركنار درياي سياه است مصروف انجام مذاكراتي باافسران نيروي دريايي درباره مسئله مالكيت وچگونگي اداره ناوگان درياي سياه است.

ديروز چنين خبررسيد كه وي همه قرارهاي ملاقاتش را براي مدت ٤٨ ساعت فسخ كرده است خبرنگاران درمسكو ميگويند خبرتائيد حضوريلتسن در بندر نوواوسيك ظاهرا حدس وگمان را در درين خصوص برطرف مي سازد كه شايد غيبت اوازصحنه كنفرانس صلح خاورميانه به علت بيماري بوده است قراراست فردا درمسكو وي بابيكر وزير خارجه امريكا گفتگو نمايد.

١٦٠ تن ازمليشه هاي رژيم باسلاح هاي دست داشته شان دربادغيس به مجاهدين تسليم شدند

ميديا

راپور هاي واصله ازكشك كهنه ولايت بادغيس حاكيست كه بتاريخ ٢٣ جنوري سال جاري دراثر عمليات شديد مجاهدين ١٦٠ تن ازمليشه رژيم ملحد بايكصد فاميل شان به سركرده گي حاجي عبدالظاهر وحبيب الله درجريان عمليات مذكور به مجاهدين تسليم شدند.

راپور مي افزايد : كه مليشه هاي مذكور به تعداد ١٦٠ ميل سلاح خفيفه را با دوعراده موتر هشت سلندره عسكري ويكمقدار مهمات ومواد لوژستيكي به مجاهدين تسليم نموده اند.

دتيـــر زاره نظام دور تير شوي ،هيڅوك نشي كولاي چـي هغـه بيـا پـر افغان ولـس تحميـل كـړي